**د روژې مبارکې میاشتې د رارسېدو په مناسبت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مبارکۍ پیغام!**




روژه د رحمت، سربنندنې او بخښنې میاشت ده. په دې مبارکه میاشت کې د خدای ج د دربار دروازې د خپلو بندګانو پر مخ خلاصې دي او دوی کولای شي د مرستې او بخښنې غوښتنه وکړي. څنګه، چې په دې میاشت کې بنده ګانو ته مرستې او الهي ورکړې بې شمېره دي؛ موږ د خدای تعالی بندګان هم د خپلو اړمنو همجنسو پر وړاندې دیني او انساني مسولیت لرو، چې د دوی لاس ونیسو او په دغه مبارکه میاشت کې ورسره مرسته وکړو.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د روژې مبارکې میاشتې د رارسېدو په مناسبت د مبارکۍ تر څنګ په ټول هېواد کې د تلپاتې سولې او ثبات د ټینګښت لپاره له ټولو حقیقي اشخاصو، بنسټونو او خیریه بنسټونو هیله کوي، چې په دغه مبارکه میاشت کې د خپلو بشردوستانه مرستو پر مهال د شهیدانو وارثین او معلولیت لرونکي وګړي هېر نه کړي د شهیدانو ورثه او معلولیت لرونکي وګړي د جګړې اصلي قربانیان او د دې وطن ریښتیني ساتونکي دي. دوی د د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، خپلواکۍ، حاکمیت او ملي ارزښتونو د دفاع په موخه قربانۍ ورکړې دي او دغه ویاړلی قشر پر موږ ټولو حق لري، چې همکاري او لاسنیوی یې وکړو او همدارنګه سربښندونو ته یې په درناوي قایل شو.